واحد فقیري
مارچ ۷، ۲۰۱۵

# د کابل او طالبانو تر مینځ خبرې

له څه وخت راهیسې، د افغان حکومت او طالبانو د تماس او خبرو رپوټونه په افغاني او نړیوالو مطبوعاتو کې خپرېږي. کابل ته د پاکستاني مقاماتو پر له پسې تګ را تګ، د مذهبي افراطیت پر ضد د اسلام اباد د همکارۍ کلکې وعدې، په قطر کې د طالبانو د دفتر بیا فعالېدل، د طالبانو په اړه د امریکا نوی موقف، او د افغان د سولې په پروسه کې د چین، ترکیې، هند، او نورو سیمه ایزو قدرتونو همکارۍ ټول پر دې دلالت کوي چې د ارګ او طالبانو تر مینځ څه خبرې رواني دي، او بنایي دا ځل د کابل او طالبانو تر مینځ مذاکرات جدي وي.
په هېواد کې د سولې او امنیت د ټینګولو لپاره د همدې مناسبو شرایطو تر څنګ، ارګ پدې هم توانېدلی دی چې د سولې په ارتباط د افغانستان د خارجي پالیسي په سمبالولو کې سیاسي ابتکار او مشرتوب خپل کړي، او د سولې د عملي لپاره نوي د حل لارې ورانديز کړي. بله ښه خبره دا ده چې د کابل په خارجي سیاست کې وضاحت، نظم، او استقرار راغلی دی. ارګ د سولې او د مخالفانو سره د خبرو کولو په باره کې واضح او څرګند موقف غوره کړی دی. د کابل همدا دیپلوماتیک وضاحت د افغان حکومت استدلال غښتلی کړی دی، او د مخالفانو منطق او اپیل ئې ور پیکه کړی دی.
بل پلو، داسې برېښي چې د پاکستان د حکومت او مدني ټولنو په هغو زیانونو سد خلاص سوی دی چې د طالبانو جمع نورو مذهبي افراطیانو د حمایت پالیسي ئې له ځانه سره لري. د نواز شریف، جنرال مشرف، او نورو پاکستاني سیاستوالو وروستی ویناوې دا نظریه غښتلې کوي چې وایي د مذهبي افراطیت د ملاتړ په اړه د پاکستان په پالیسي کې یو نوی طرز تفکر او بدلون راغلی دی؛ ځکه د پېښور فاجعې او نورو وروستیو ترویریستي حملو پاکستان ته سخته جټکه ور کړې ده. همدا رنګه، د مذهبي افراطیت د حمایت په برخه کې پاکستان نن سبا په نړیواله ټولنه کې تجرید سوی دی.
هند ته د جمهوررییس اوباما وروستی سفر د پاکستان لپاره باید ډېر سخت تمام سوی وي. د هند صدراعظم مودي د اوباما داسې تود هرکلی وکړ چې د پاکستان لپاره د زغمولو نه وو. دواړو مشرانو په مختلفو ساحو کې د همکاریو ژمنې هم وکړې. د اوباما او مودي د ملاقاتونو په جریان کې د پاکستان انګریزي مطبوعاتو اسلام اباد په بایلات متهماوه، او په سیمه او نړۍ کې ئې د هند ځلا او ګټه د پاکستان د غلطو پالیسیو نتیجه بلله. د ډان اخبار اکثرو سیاسي مبصرینو اسلام اباد ته په طعنه ویل: پخواني یاران دي در څخه بېزاره سول، یوازې پاته سوې، او بالاخره دې د مذهبي افراطیت د ملاتړ زیان ولیدا!
البته، د همدې خطرناکې پالسیي له مصیبت څخه پاکستان بل هیڅوک نه سي ژغورلای مګر پخپله پاکستانیان.
د پاکستان د مدني او سیاسي ټولني نبض دا ښیي چې هغوی پدې باره کې د اصلاح او بدلون غواړي، ځکه هغوی پوهېږي چې د مذهبي افراطیت ملاتړ د ظلمت پټنګانو ته لاره او لیکه ښودل دي، او جاهلیت ته پخپله خوښه تلل دي. داسې برېښي چې هغوی دا درک کړې ده چې د مذهبي افراطیت سره مقابله د پاکستان د پایښت او ثبات یوه اساسي مسله ګرځېدلې ده.
په هر حال، د افغان حکومت ته پکار ده چې د پاکستان سره په ایکسټرا احتیاط معامله وکړي، او د امریکا د فقید جمهوررییس ریګن هغه مشهوره مقوله تل په یاد ولري چې په واشنګټن کې ئې د جمهوررییس ګوربچوف د ملاقات په ترڅ کې مدام یادوله: ټرسټ بټ وریفای. مانا اعتماد او باري به کوو، خو احتیاط لازم.
په همدې لړ کې، د سولې په اړه د چین فعال شرکت یو بل ښه دلیل دی. چین کولای سي چې د سولې په عملیه کې یو بې طرفه ناظر او همکار وي، او افغان اړخونه یوې سیاسي روغې جوړې ته وهڅوي. چین په افغانانو او پاکستانیانو کې ښه شهرت لري، او د دواړو خواوو سره ئې ښه روابط پالللي دي. سرسبېره پر دې، د چین د ملي امنیت ګټې په منطقه کې ثبات او سوله غواړي، او اقتصاد ئې هم همدا ایجابوي. د چین ګټې پدې کې دي چې په منطقه کې د پانګونې او خامو موادو د پیدا کولو لپاره منابع ډېرې او شرایط سم وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همدا راز، ترکیه هم د سولي د پروسې د پیاوړتیا سیاسي او اقتصادي توان لري. ترکیه یو اباد او دیموکراتیک مسلمان ملک دی. د افغانستان سره تاریخي اړیکي لري، او اکثره افغانان په ښه سترګه ورته ګوري. لنډه دا چې د ښاغلي اردوغان حکومت د سولي په پروسه کي په کافي اندازه اسانتیاوي برابرولای سي.
که څه هم په افغانستان کي د سولي لپاره کورني او بهرني حالات ښه ښکاري، خو سوله او ثبات خپل داخلي او خارجي دښمنان هم لري. په دواړو خواوو کي ځیني داسي ډلي سته چي په سوله کي خپله ګټه نه ویني، او یا اصلا د ثبات او امنیت سره عادت نه لري. په بل عبارت، هغوی نه پوهېږي چي څرنګه سوله مدیریت کړي. هغوی یوازي جنګي شرایط لیدلي دي او یوازي جنګي شرایط تنظیمولای سي.
بله مهمه خبره دا ده چي د سولي پروسه له ځان سره باید د بریالیتوب او امن پیغام ولري، او اهداف ئې روښانه او واضح وي. شفاف او منظم سیاسي چوکاټ ولري. د مدني ټولني نظریاتو ته احترام په کښي څرګند وي، او د فرد مدني او سیاسي ازادي په کښي خوندي وي. مرام ئې د خلګو په ګډون د سولي عملیه په شفافه توګه مخته بېول وي. دواړي خواوي باید سیاسي ریالیزم ولري، او د قدرت په وېش کي عدالت ومني. دواړه طرفونه باید پدې قانع وي چي جنګ نور مشروعیت او ګټه نه لري، او جنګ یوازي د افغانانو وژل او د ملک تباهي نوره هم اوږدوي.
په پای کي، له ننني داخلي او خارجي مناسبو شرایطو څخه هله ښه استفاده تر لاسه کېدلای سي چي د افغانستان په معاصر تاریخ کي د لومړی ځل لپاره د دایمي سولي د تهداب اوله خښته سمه او سیده کښېښودل سي. ځکه د افغانستان او منطقې په لنډ تاریخ کي داسي جنګونه کم ندي چي څو واري ئې د ختمېدو هیلي قوي سوي دي، خو د سیاسي مشرانو د غفلت، سرټمبګی، او یا نورو عواملو په وجه هغه مناسب فرصت ضایع سوی دی، او جنګ او مرګ ژوبله اوږده سوې ده. فلسطین، کشمیر، سوریه، عراق، او نوري رواني بین المللي لانجې د دې ادعا فقط یو څو مثالونه دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ